د اداري فساد پرواړندې د مبارزې د څارنې او ارزونې خپلواکه ګډه کمیټه

# په افغانستان کې د اداري فساد د قضیو د طي مراحلو په اړه د اداري فساد په وړاندې د زیانمننې ارزونه

کابل

کب ۱۳۹۳

## مخففات

| | |
|---|---|
| AGO | لويه څارنوالي |
| CMS | د قضيو د مديريت سيستم |
| DL | مدافع وکيل |
| IARCSC | د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو خپلواک کميسيون |
| MEC | د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې د څارنې او ارزونې خپلواکه ګډه کمیټه |
| ILC | د حقوق پوهانو خپلواکه کمیټه |
| JFAO | د ټولو لپاره د عدالت اداره |
| JSSP | د عدلي سکتور څخه د ملاتړ پروګرام |
| MoI | د کورنيو چارو وزارت |
| NDS | د ملي امنيت رياست |
| SAO | د تفتيش عالي اداره |
| HOO | له اداري فساد سره  د مبارزې عالي اداره |
| AIB | د افغانستان د مدافع وکيلانو خپلواکه ټولنه |
| TI | نړیواله رونټیا |
| UNCAC | د اداري فساد پر وړاندې د ملګرو ملتو کنوانسيون |
| USAID | د امریکا متحده ایالاتو پراختیایي اداره |
| VCA | د اداري فساد په وړاندې د زیانمنني ارزونه |
| WB | نړیوال بانک |

## 1. لنډیز

د اداري فساد په وړاندې د زیانمنني د ارزوني ځانګه د افغانستان په عدلي او قضايي سکتور کې د اداري فساد د قضیو د مدیریت په وړاندې شته ستونزې او ننګونې تر څیړنې لاندې نیولی دي. د اداري فساد په وړاندې د زیانمنني ټیم یو شمیر زیانمنني په ګوته کړې چې د هغو یو شمیر لامل د بشري وړتیا ټیټه کچه او د دولتي ادارو ترمنځ د کمزوري همغږی شتون بلل کیږي.د یادو نیمګړتیاوو ترڅنګ، د سیاسي ارادې نشتوالی، او د لوړ پوړو چارواکو لاس وهنه په افغانستان کې د اداري فساد د قضیو په وخت باندې طي مراحل کیدو پروسه له ننګونه سره مخامخ کړی ده.

## 2. سریزه

د اداري فساد په وړاندې د زیانمنني ارزونه په افغانستان کې د اداري فساد د قضیو د طي مراحلو د زیانمنني د مخنیوي په موخه ترسره شوې ده. په تیرو کلنو کې په سلګونو د اداري فساد قضیې د افغانستان لویې څارنوالی ته وړاندې شوې دي، خو ډیری یې نه دي څیړل شوي. د اداري فساد په وړاندې د زیانمنني د ارزوني ټیم د اداري فساد په وړاندې د مبارزې یو شمیر زیاتو کاري شریکانو د دولتي ادارو او حقوقي بنسټونو په ګډون په دې ارزونه کې را ښکیل کړي او د هغوی نظریات یې را اخیستي دي.

یاده ارزونه د افغانستان په عدلي او قضایي سکتور کې د اداري فساد پر وړاندې د زیانمنني لومړنی ارزونه ده چې د اداري فساد پر وړاندې د څارنې او ارزونې خپلواکې او ګډې کمېټې له خوا ترسره شوې، چې په لړ کې یې یو شمیر ننګوني را برسیره شوې چې مخکې د اداري فساد پر وړاندې د زیانمنني ټیم له هغوی سره د ۲۰۱۱کال راهیسې د یادې کمیټې د کار د پیل څخه را په دې خوا نه و مخامخ شوی. یو شمیر دولتي اداراې چې د اداري فساد د قضیو په څیړلو کې ښکیلې دي وسره په دې اړه مشوره ترسره شوې، سره له دې چې د اداري فساد سره د مبارزې عالي ادارهې او د افغانستان ستړې محکمې په ګډون یو شمیر کلیدي ادارو له یادې ارزونې سره د له مرستې ډډه کړی ده. په ورته وخت کې د ستړې محکمې یو شمیر کارکوونکو په لومړیو کې په دې باندې هوکړه وکړه چې ونډه واخلي، خو د هغوی لوړ پوړو کارکوونکو د هغوی د ګډون مخنیوی وکړ. د یادوني وړ ده چې د اداري فساد په وړاندې د زیانمنني د ارزونې ټیم د اداري فساد په وړاندې د زیانمنني د ارزونې موخې چې د پروسو او طرزالعملونو کره کتل او څیړل دی نه د انفرادي قضیو کتل، په ډیره روښانه توګه ټولو ادارو ته څرګند کړې دي.

د پروسو او طرزالعملونو د څیړنې په برخه کې د دوو دولتي اداراو پاتې راتلل په افغانستان کې له عدلي ادارو سره د کار کولو د ننګونې ښکارندويي کوي. په داسې حال کې چې د اداري فساد په وړاندې د زیانمنني ارزونې تمرکز د بشري سرچینو په ظرفیت، سترو اداري نیمګړتیاو او د ادارو تر منځ د همغږۍ نشتوالي باندې دی، خو دا ډیره مهمه ده چې دغه ادارو مخنیوی او څیړنې په وړاندې خپله د اداري فساد په وړاندې زیانمننه او په ورته وخت کې د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې د بنسټونو توانمني، د فساد د قضیو پیژندلو او هغو ته د لارو چارو مندلو بهیرته زیان اړونکی بلل کیږي. د څیړنو نشتون خپله په قضایي پروسو باندې د ناوړه بهرنی اغیزې لپاره لاره هواروي.

د ستړې محکمې او د اداري فساد سره د مبارزې عالی اداري په ګډون ډیری اداري کوښښ کوی ترڅو د اصولو او مقرراتو د ناسم تفسیر له لارې د اداري فساد سره د مبارزې ښکیلو ادارو سره نه همکاري او د مالوماتو نه شریکول توجیه کړي. د دغه همکارۍ د نشتوالي یوه بیلګه د اداري فساد په وړاندې د څارنې او ارزونې خپلواکې او ګډې کمیټې ته د ستړې محکمې لخوا په استول شوي مکتوب کې لیدل کیږي چې په یاد مکتوب کې خپله نه همکاري څرنګه توجیه کوي (لومړۍ ضمیمه دې وکتل شي). په افغانستان کې د اداري فساد پر وړاندې مبارزه په دې بهیر کې د ټولو ښکیلو ادارو لکه نړیوالې ټولنې، مدني بنسټونو او دولتي ادارو ترمنځ د ښې همغږۍ پورې اړه نیسي. له بده مرغه، ستړې محکمې او د اداري فساد سره د مبارزې عالي اداره و نه توانیدل ترڅو په دې اړه جدي پاملرنه وکړي چې دې کار د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې په برخه کې د هغوی هوډ او ژمنې تر پوښتنې لاندې راوستي دي.

## 3. د اداري فساد په وړاندې د زیانمنني په ارزونه کې د مالوماتو د راغونډولو میتودلوژي

د اداري فساد په وړاندې د زیانمنني په ارزونه کې مالومات د یو زیات شمیر کاري شریکانو سره د ناستو او مرکو د لارې را غونډ کړل شوي دي، چې په لاندې ډول دي.

- لویه څارنوالي
- د تفتیش عالي اداره
- د کورنیو چارو وزارت د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې ریاست
- د پروان ولایت د استیناف محکمه
- د افغانستان د ولسي جرګې عدلي او د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې کمیسیون
- له عدلي سکتور څخه د ملاتړ پروګرام (JSSP)

- د GIZ موسسه: د قانون د حاکمیت پروژه
- د ټولو لپاره د عدالت بنسټ (JFAO)
- د افغانستان د حقوق پوهانو ټولنه (ILC)
- د پوهنتون استادان
- د افغانستان د مدافعه وکیلانو خپلواکه ټولنه (AIBA)
- د ملي امنیت ریاست (NDS)
- ستره محکمه (SC)
- د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې عالي اداره (HOO)

یو ځل بیا د یادونې وړ ده چې د څارنې عالي اداره او د افغانستان ستره محکمه د اداري فساد پر وړاندې د زیانمننې ټیم سره په همکارۍ کې پاتې راغلي ده.

### 4. حقوقي چوکاټ

د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې چوکاټ د یو شمیر قوانینو په رڼا کې را منځته شوی دی. چې دغه قوانین عبارت دي د افغانستان د جزا قانون یو شمیر حکمونه چې اوس مهال تر تعدیل لاندې دي او همدارنګه د پیسو د تطهیر سره د مبارزې قانون په ګډون یو شمیر اختصاصي قوانین.

څرګنده ده چې د افغانستان د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې په حقوقي چوکاټ کې یو شمیر زیاتې زیانمننې شته چې را نغښتل یې په دې ارزونه کې ناشوني دي. افغانستان د اداري فساد پر وړاندې د ملګرو ملتونو د میثاق (UNCAC) د یو غړي په توګه اړ دی ترڅو د یاد میثاق غوښتنې د خپل اداري فساد پر وړاندې د مبارزې په حقوقي چوکاټ، د جزا قانون د مرعي الاجرا حکمونو په ګډون له نړیوالو معیارنو سره سم منعکس کړي. د څارنې عالي اداره د ملګرو ملتونو د اداري فساد پر وړاندې کنوانسیون سره د افغانستان د تطابق د ځاني ارزونې لومړی پړاو د اړوندو اداراو په همکارۍ چمتو او څارلې دي. په داسې حال کې چې دغه ارزونې د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې په حقوقي چوکاټ کې د تشوو او نیمګړتیاوو د پیژندلو فرصت برابر کړی، خو د څارنې او ارزونې کمیټې موقف دادی چې دغه ځاني ارزونه چې د څارنې عالي اداري لخوا ترسره شوې پر واقعیت ولاړه نه ده او په ځینې مواردو کې د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې فعالیتونو د نه سمون او عدم تطابق څخه سترګې پټې شوې دي او زیاتې تیروتنې په کې شته.

د اداري فساد پر وړاندې د څارنې او ارزونې خپلواکې ګډې کمیټې نوې اداري ته د دغو نیمګړتیاوو د پوره کولو په موخه خپل یو شمیر وړاندیزونه وړاندې کړي چې په لاندې ډول دي:

- ملګرو ملتونو د اداري فساد پر وړاندې کنوانسیون (UNCAC) د ځاني ارزونې رسمي یا غیر رسمي هر اړخیزه څېړنه د نیمګړتیاو د اصلاح په موخه
- د یو وړتیاوړ کس ګمارل ترڅو د ملګرو ملتونو د اداري فساد پر وړاندې کنوانسیون د ځاني ارزونې د دویم پړاو څخه څارنه وکړي.
- د یوه کاري پلان ترتیبول ترڅو د افغانستان د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې په حقوقي چوکاټ کې دپیژندل شوې تشې او نیمګړتیاوې پوره کړي.

اوس مهال، هڅې رواني دی ترڅو یو نوی قانون تصویب او شته قوانین لکه د جزا قانون وڅیړل شی، د افغانستان جزایی قوانین او طرزالعملونه د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې اړوندو قوانینو په ګډون پیاوړي شي. د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې قانون مسوده ولسي جرګې ته استول شوې، خو تصویب یې ځنډول شوی دی.

د یوې عمومي بیاکتنې په ترڅ کې چې دهغې په واسطه د افغانستان حقوقي چوکاټ شکل نیسي، تمه کیږي چې یو زیات شمیر زیانمننې چې د اداري فساد په وړاندې د زیانمننې ارزونه کې پیژندل شوې په ځانګړې ډول د ادارو تر منځ د همغږۍ په کمزورتیا کې به د پام وړ بنه والی راشي.

د قوانینو د اصلاح د اړتیا سربیره، څرنګه چې په دې قوانینو کې تر ډیره بریده د اداري فساد جرایمو ته مجازات په کې په څرګند ډول بیان شوي، د ارزونې ټیم موندلي چې ځینې قوانین د ادارو ترمنځ د مخالفتونو د زیاتیدو لامل ګرځي.

د مثال په ډول، د لویې څارنوالی د تشکیل او صلاحیتونو د قانون د ۱۲ مادې د ۱۱ فقرې پر بنسټ، یاده اداره اړ ده ترڅو ولسي جرګې او عند المطالبه ولسمشر ته رپوټ وړاندې کړي چې متن یې په دې ډول دی.

د څارنوالی د اجراأتو د رپوټ وړاندې کول ملي شورا او عند المطالبه ولسمشر ته.

د اداري فساد سره د مبارزې د اړوندو ادارو سره د کورنيو چارو وزارت او د تفتيش عالي ادارې په ګډون کومې مرکې چې د اداري فساد په وړاندې د زيامنني تيم لخوا ترسره شوې دي دا جوته کيږي چې لويي څارنوالی د قانون دغه ماده په بل ډول تفسير کوي. يعنی دا چې دغه مادې لويه څارنوالي د يو خپلواک بنسټ په توګه پيژندلي ده، او له نور ادارو سره د قضيو د پرمختګ (د اداري فساد قضيو) په اړه د مالوماتو شريکول سره ممانعت شوی دی. چې دغه کار د دې لامل شوی ترڅو کشفي ادارای په لويي څارنوالی کې د قضيو د پرمختګ د پايلو په هکله د مالوماتو په تشه کې راشي او لويي څارنوالی ته د استول شويو قضيو د تعقيب پروسه زيانمنه کړي. دا په داسې حال کې ده چې حقوق پوهان د قانون د دغه مادې په هکله د لويي څارنوالی تفسير چې ګواکې د نورو ادارو سره د مالوماتو شريکول د يادې ادارې استقلاليت ته زيان اړوي، ناسم او غلط ګڼي.

د لويي څارنوالی د تشکيل او صلاحيتونو د قانون د ۱۲ مادې ۱۱ فقره د لويي څارنوالی او د څارنې عالي اداري ترمنځ د اختلاف موضوع ګرځيدلې. په داسې حال کې چې د تفتيش قانون د ۱۷ مادې ۱ فقرې داسې صراحت لري: لويه څارنوالي مکلفه ده ترڅو د هغو قضاياوو په اړه چې د تفتيش د لويي اداري لخوا يادې اداري ته د عدلي تعقيب په موخه استول کيږي په اړوند يې د اجرااتو په هکله د تفتيش عالي اداري ته په کتبي ډول مالومات ورکړي.

*د دې مادې پر بنسټ، د لوی څارنوالی اداره مکلفه ده ترڅو د تفتيش لويي اداري ته د مغوی قضيو د پرمختګ په هکله مالومات ورکړي چې د يادې اداري لخوا لويي څارنوالی ته استول شوي دي.*

دغه مسئله د لويي څارنوالی تفسير د يادې اداري د تشکيل او صلاحيتونو د قانون د ۱۱ مادې په هکله تر پوښتنې لاندې راولي. سربيره پر دې، د لويي څارنوالی د تشکيل او صلاحيتونو قانون ۴ ماده داسې صراحت لري: لويه څارنوالي د اجرائيه قوې جز دی، په خپلو اجرااتو کې مستقله او د قانون تابع بلل کيږي. د دې مادې مطابق، لويه څارنوالي له قانون څخه په متابعت مکلفه ده، او د دې مادې د مقتضا سره سم، بايد د تفتيش عالي اداري د قانون ۱۷ مادې د حکم سره سم دا د لوی څارنوالی مکلفيت دی ترڅو د هغو قضيو د وضعيت په اړه چې د تفتيش عالي اداري له خوا استول شوي يادې اداري ته مالومات ورکړي. د قانوني احکامو او مفاهيمو تفسير د اداري فساد يوه مهمه وسيله ده چې په افغانستان کې د عدلي سکتور د چلونکو له خوا کارول کيږي ترڅو د څيرنو څخه مخنيوی او غير قانوني کړني او چارې ور باندې توجيه کړي. همداراز ناوړه تفسير د قانون څخه په جدي توګه د دوو ادارو ترمنځ همغږي زيانمنوي او واقعاً د اداري فساد د هغو قضيو د څيړلو او تعقيب څخه مخنيوی کوي چې د تفتيش لويي اداري يا نورو ادارو له خوا څارنوالی ته استول کيږي.

## 5. اداري او د بشري سرچينو ستونزې

د اداري فساد د قضيو د پرمخ بيولو په برخه ډيرې اداري ښکيلې دي.




د څارنې عالي اداره (HOO) ، د کورنيو چارو وزارت (MOI )، د ملي امنيت رياست (NDS) او د تفتيش عالي اداره (SAO ) دا توان لري ترڅو د اداري فساد قضيې ترتيب او لويي څارنوالی ته يې د عدلي تعقيب په موخه واستوي. له سترو جرمونو سره د مبارزې څانګه (MCTF ) چې د کورنيو چارو وزارت او ملي امنيت رياست څخه جوړه شوې، دنده لري ترڅو د اداري فساد لويې قضيې و

پلټي. د نورو فعالیتونو سربیره، یادې ادارې د اداري فساد قضیې د حقوقي پلوه پلټي او څیړي او لویې څارنوالۍ ته د قضیې اړوندو اسنادو او مدارک د استولو څخه مخکې هغوی د غور او څیړنې لاندې نیسي.

### 5.1. د ادارو تر منځ همغږي

د کوچنیو استثناآتو په پام کې نیولو سره، د اداري فساد په وړاندې د زیانمننۍ ارزونې ټیم په ټولیز ډول موندلي چې د څارنې عالي ادارې، د کورنیو چارو وزارت، د ملي امنیت ریاست او د تفتیش عالي ادارې ترمنځ همغږي نشته. د یادو ادارو ترمنځ د همغږۍ نشتوالی د دې لامل ګرځېدلی ترڅو د هغوی د ګډو هڅو په پایلو کې د پام وړ ټیټوالی راشي او د دوه ګونو فعالیتونو او د دندو د تداخل لامل وګرځي.

سربیره پردې څرنګه چې مخکې هم ورته اشاره وشوه، د لوی څارنوالی اداره د قانون مواد په غیر مؤجه ډول تفسیروي ترڅو د تفتیش عالي ادارې او نورو اړوندو ادارو ته دادارې فساد قضیو په اړه د مالوماتو له ورکولو ډه ډه وکړي. د یادونې وړ ده چې په ټولو فعالیتونو او ځانګړې توګه د اداري فساد په وړاندې د مبارزې اړوندو ادارو سره د مالوماتو شریکولو په برخه کې نه باید حقوقي مبناوې او د قانون ځانګړي مواد و پلټل شي. د یادونې وړ ده چې حقوقي چوکاټ نباید د اداري فساد په وړاندې د مبارزې هڅو د همغږۍ په وړاندې خنډ وګرځي، په ځانګړې ډول د مالوماتو د شریکولو په برخه کې، البته که چیرته ټولې اړوندې ادارې غواړې چې په جدي ډول د اداري فساد سره مبارزه وکړي. په بل عبارت یادې ادارې په واقعي توګه مکلفې دي ترڅو د اداري فساد پر وړاندې مبارزه وکړي، نو په دې موخه هغوی باید داسې لارې چارې وپلټي چې د قوانینو او مقرراتو د لارښوونې څخه پرته اړینه کاري همغږي رامنځته شي. نو د همغږۍ په نشتوالي کې د اداري فساد په وړاندې د مبارزې اړوندو ادارو کاري رونټیا تر پوښتنې لاندې راځي، او منل شوي اداري اصول او کلتور ته به زیان واړول شي.

د ادارو ترمنځ د مسئولیتونو او دندو نه وضاحت د یادو ادارو ترمنځ د همغږۍ د کمزورتیا لامل ګرځي، چې دا کار د موازي ادارو د رامنځته کیدو لامل او په دې توګه د ادارو ترمنځ د معلوماتو د نه شریکولو او په پایله کې د ټاکل شویو موخو ته د نه رسیدو لامل ګرځي.

موازي بنسټونه او د مسئولیتونو تضاعف د قضیو د پرمخبیولو او تعقیب په برخه کې د بشري سرچینو څخه د ناسمې استفادې لامل ګرځي. د مثال په ډول، د لویې څارنوالی د څرګندونو سره سم د مسلکي څارنوالانو کموالی د دې لامل شوی ترڅو هر څارنوال د ۳۰ – ۴۰ قضیو مسئولیت په غاړه واخلي، چې په دې توګه د اداري فساد د قضیو په برمخبیولو کې د ځنډ لامل ګرځي[1]. د قضیو ډیر والی د قضیو په ترتیب او مستند کولو کیفیت باندې ناوړه اغیزه لري چې کیدای شي د تیروتنو او غلطیو لامل شي. د لویې څارنوالی کارکوونکو ویلي چې ډیری وختونه د کافي وخت د نشتوالي له امله قضیې په نا تکمیل ډول محکمې ته استول کیږي. چې دغه کار د محاکمو د شکایت لامل ګرځي او قاضیان اړکیږي چې قضیې د اصلاح او مستند کولو په موخه رد کړي.

### 5.2. د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې عالي اداره

څرنګه چې د اداري فساد پر وړاندې د زیانمننې ارزونې په سریزه کې وویل شول چې د فساد پر وړاندې د مبارزې عالي ادارې د زیانمننې ارزونې ټیم سره هیڅ ډول همکارۍ نده کړې، د اداري فساد په وړاندې د زیانمننې ټیم د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې عالي ادارې سره د مرکې او همکارۍ په موخه څو خلې اړیکې نیولي، ولې هغوی ټول رسمي غوښتنې د همکارۍ په خاطر رد کړي دي.

### 5.3. د لوی څارنوالی اداره

د دغې ارزونې له موندنو سره سم، د لوی څارنوالی په تشکیلاتي جوړښت کې یو شمیر اداري شته لري چې دهغوی دندې او مکلفیتونه څرګند نه دي په داسې حال کې چې یو شمیر نور اداري د لوړ کاري حجم سره مخامخ دي. د افغانستان په ادارو کې د دندو او بشري منابعو دغه غیر عادلانه ویش یوه معموله ستونزه بلل کیږي. سربیره پردې د لویې څارنوالی د ادارو ترمنځ د دندو دوه ګونې لیدل کیږي.

د مثال په ډول، د لویې څارنوالی د لاندنیو ادارو ترمنځ د دندو دوه ګونې لیدل کیږي:

---

[1] د یادونې وړ ده چې لوی څارنوالی په رسمي ډول د اداري فساد په وړاندې د څارنې او ارزونې خپلواکې او ګډې کمیټې ته څرګنده کړې چې ټولې قضیې په وخت سره طی مراحل کیږي، ولې په دې اړه یې کوم ثبوت یا مدرک ندی وړاندې کړی ترڅو د هغوی د دغه ادعا ملاتړ وکړي.

1. د کورني تفتيش رياست
2. د کنترول او مراقبت رياست
3. د قانون د پلي کيدو د څارني رياست

داسي معلوميږي چي يادي اداري تقريباً ورته مسئوليتونه لري او يا د خپلو کارونو د اغيزمنتيا د توجيه په خاطر ورته اصول لري. د اداري فساد پر وړاندي د مبارزي ډيری اداري په دې باور دی چي د لويي څارنوالی اداري جوړښت بيا کتني ته اړتيا لري، او ممکنه ده چي د لويي څارنوالی د کورني تفتيش ډيری مسئوليتونه د تفتيش عالي اداري ته وليږدول شي.

## 5.4.بشري سرچېنې

تقريباً له ټولو هغو ادارو سره چي مرکه شوي، هغوی د اداري فساد د قضيو د ترتيب، پرمخبيولو او تعقيب په برخه کې د بشري منابعو ظرفيت يوه عمده نيمګړتيا عنوان کړی ده. د مثال په ډول، د اداري فساد په قضيو باندې کار کول تخنيکي او حقوقي لوړو مهارتونو ته اړتيا لري، ولې په لوی څارنوالی کې د پام وړ شمير څارنوالان د حقوقي پوهې څخه بې برخې دي او د هغوی يو شمير يواځې د دولسم ټولګي څخه فارغ التحصيل دي.

مرکه کوونکو په ډاګه کړي چي د کورنيو چارو وزارت، د تفتيش عالي اداره او لوی څارنوالی سره له دې چي ښونيز مرکزونه لري، ولې د روزونکو د پوهې ټيټه کچه، د زده کوونکو غير منظم ګډون، او د ښوونيزو پروګرامونو کمزوري څارنه او ارزونه د يادو ښوونيزو مرکزونو د اغيزمنتيا کچه ټيټه کړې.

د ښووني د ټيټ کيفيت سربيره، مرکه کوونکو هم په دې باور دی چي د اداري فساد سره د مبارزې ښونيزې دورې د کليدي او تخنيکي برخو په ګډون لکه تفتيش ډير محدود دی.د مثال په ډول، د تفتيش عالي اداره په منظم ډول په هر وزارت کې تفتيش ترسره کوي، ولې د مالي تفتيش په برخه کې په کافي اندازه مفتشين چي ځانګړي حسابي تخنيکي مهارتونه ولري شتون نلري، چي دغه کار په ادارو کې د دې لامل ګرځيدلی ترڅو د مالي فساد قضيې په د دقيق ډول ونه پيژندل شي او په دې برخه کې د زيانمنني لامل وګرځي.

په داسي حال کې چي د بشري منابعو په برخه کې ښه والی د ښه استخدام د لارې رامنځته کيدای شي، ولې د دغه موخو د ترلاسه کولو په خاطر د بشري منابعو د واحدي پاليسی چمتو کول کيدای شی ستونزمن کار وي. د کورنيو چارو وزارت او د ملي امنيت رياست خپل د استخدام ځانګړي قوانين او مقررات لري. د څارني عالي اداري او د تفتيش عالي اداري د استخدام سيستمونه د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو د رتب او معاشاتو د پروګرام تر پوښښ لاندې دی او په عين حال کې په ستره محکمه کې د اصلاحاتو پروګرام شتون لري چي ډيری قضات تر پوښښ لاندې لري. سره له دې چي د سترې محکمې يو شمير زيات کارکوونکي د قضيو په تنظيم او پرمخبيولو کې د ښکيلو محررانو په ګډون د دې پروګرام تر پوښښ لاندې ندي راغلي.

په لويه څارنوالی کې د استخدام سيستم د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو د خپلواک کميسيون د استخدام سيستم پر بنسټ نه ترسره کيږي، سربيره پر دې چي په ورستيو کلنو کې هلته ډيری هڅې ترسره شوی، ځواب ورکوونکي په دې نظر دي چي د لوی څارنوالی د استخدام سيستم ډير زوړ او د اداري فساد او د استخدام په پريکړو کې د نفوذ اعمال په وړاندې زيانمنيدونکی دی. داسي انګيرل کيږي چي د لوی څارنوالی د ۴۵۰۰ کارکوونکو څخه ۲۰۰۰ کارکوونکي د تحصيلاتو نامعلوم شاليد لري او يا يواځې د اسلامي مدارسو څخه د دولسم ټولګي سند ترلاسه کړی دی. د اداري فساد په وړاندې د زيانمننی ارزوني په پروسه کې ښکيلي اداري دا وړانديز کوی چي د لوی څارنوالی د استخدام او ارتقا په سيستم کې د پام وړ اصلاحاتو ته اړتيا ليدل کيږي.

په پای کې داسي معلوميږي چي په لويه څارنوالی کې د کارکوونکو د اجراأتو د ارزوني يو عملي او کارا سيستم شتون نلري.

## 5.5.د ادارو د انسجام ستونزه

د اداري فساد په وړاندې د زيانمنني د ارزوني ټيم د يو شمير زياتو کارکوونکو او بنسټونو د ټيټي او منځنی کچي کارکوونکو په ګډون سره مرکي ترسره کړي دي. ډيری دغه کارکوونکي په دې نظر دی چي په ادارو کې اداري فساد د پورته څخه کته شتون لري او يا داچي د بيروني قدرتمندو اشخاصو نفوذ د دوی د کارونو د نا اغيزمنتيا لامل ګرځيدلی دی. ځواب ورکوونکي په دې باور دې چي قضيې د تخنيکي کارکوونکو لخوا چمتو او تنظيميږي، ولې د لوړ پوړو چارواکو لخوا د تعديل او لاس وهني له امله کمزوري کيږي. مرکه کوونکي په دې نظر دې چي د مجازاتو او مکافاتو فرهنګ لږ پلی کيږي.

### 5.6. امنيتي ستونزې

ځواب ورکوونکي همدارنګه د هغو مفتشينو/څارنوالانو لپاره چې د اداري فساد قضيې تعقيبوي د هغوی لپاره د امنيت[2] د نشتون په هکله شکايت لري. ډيری هغه څارنوالان چې د اداري فساد په وړاندې د ارزونې ټيم ورسره ليدلي دي د امنيتي ګواښونو سره مخامخ دی. د مثال په ډول، د پروان ولايت د څارنوالی رياست د ځرګندونو سره سم، د روان کال په ترڅ کې پنځه تنه رئيسان دې څارنوالی ته ور پيژندل شوي چې د امنيتي انديښنو له امله د خپلو دندو څخه يې استعفا کړی ده.

## 6. د قضيو طی مراحل/تعقيب

د تفتيش عالي اداره او د کورنيو چارو وزارت دواړه په دې باور دي چې لوی څارنوالی د هغو قضيو د پرمختګ په اړه چې د يادو ادارو څخه ورته وړاندې شوی په اړه يې د معلوماتو په شريکولو کې پاتې راغلې ده. د مثال په ډول، د ولايت په کچه د مالي اختلاس قضيې چې د کورنيو چارو وزارت لخوا لوی څارنوالي ته څو مياشتې مخکې استول شوي. وروسته له هغې د رسمي مطالبې سربيره، د لوی څارنوالی اداري څو ځلې د کورنيو چارو وزارت سره د معلوماتو شريکولو څخه ډه ډه کړې، او د کورنيو چارو وزارت لوی څارنوالی ته د همکارۍ د نه شتون په اړه انتقادي ليک استولی دی. د لوی څارنوالي اداری د دغه ليک په ځواب کې د يو رسمي مکتوب له لارې د کورنيو چارو وزارت کارکوونکي د خپل صلاحيت څخه د ناوړه استفادې په تور په عدلي تعقيب تهديد کړي دي. د دغه ډول ناسم چلند په پايله کې ډيری د اداري فساد هغه قضيې چې د اداري فساد په وړاندې د مبارزې اړوندو ادارو لخوا د عدلي څيړنې په موخه لوی څارنوالی ته استول شوي، د تعقيب او څيړنې څخه پاتې او غايبې شوی دي.

د تفتيش عالي اداره وايي چې د اداري فساد ۲۸۴ قضيې يې لوی څارنوالی ته استولې، ولې لوی څارنوالی يوازې د ۳۳ قضيو په هکله هغوی ته رپوټ استولی دی.

### 6.1. مداخلات/لاس وهنې

څرنګه چې د اداري فساد په وړاندې د زيانمننې په مخکينيو ارزونو کې څرګنده شوی، د استخدام په موضوعاتو کې لاسه وهنه او مداخله د قدرتمندو اشخاصو لخوا د ولسي جرګې غړيو، وزارتونو او نورو په ګډون ترسره کيږي. دا ډول لاس وهنې د اداري فساد قضيو د طی مراحلو او تعقيب په بهير کې حتی د وروستی پريکړې تر وخته ترسره کيږي، سر بيره پردې چې د قضيو د ثبت سيستم الکترونيکي او ورقي دی. ځواب ورکوونکو يادونه کړی چې د کابل بانک قضيه د اداري فساد د قضيو په طی مراحلو کې د مداخلې يوه بيلګه ونومول شي.

### 6.2. د قضيو ثبت/مديريت

د نويو قضيو ثبت په لاسي ډول ترسره کيږي، او ترڅو چې قضيې خپل پخوالي ته ونه رسيږي د قضيو مديريت په الکترونيکي سيستم (CMS) کې نه ثبت کيږي چې دغه د اداري فساد په قضيو کې د فساد په وړاندې يوه لويه زيانمننه بلل کيږي. په بل عبارت هغه قضيې چې د قضيو د مديريت الکترونيکي سيستم کې نه داخليږي په هغو کې لاس وهنه کيږي او د اداري فساد څخه زيانمنې کيږي.

د قضيو د مديريت په سيستم کې د قضيو د ثبت څخه مخکې د دغو قضيو په اسنادو کې د جعل کارۍ او لاس وهنې په موخه هغوی ځنډول کيږي. د قضيو د مديريت کمپيوټري سيستم په کارونوکې د دوه ګونی، جعل او تقلب د مخنيوې او په عمومي توګه د جرمي قضيو او اداري فساد قضيو په تعقيب کې د اغيزمنتيا د راوستولو په موخه طرحه او ديزاين شوی دی. د اداري فساد په وړاندې د زيانمننې د ارزونې ټيم موندلي چې د پام وړ نيمګرتياوې د تخنيکي ظرفيت په برخه کې په ځانګړي ډول د قضيو د ثبت په برخه کې شتون لري. د يادونې وړ ده چې د قضيو د مديريت سيستم د کارکوونکو روزنه اوس مهال هم روانه ده او وروسته لغې چې قضيې د قضيو د مديريت سيستم ته داخلې شي د هغو د زيانمننې چانس شتون کم دی.

د پروان ولايت څخه د ليدنې په ترڅ وموندل شول چې د قضيو د مديريت سيستم په برخه کې يوازې دوه کارکوونکي شتون لري ترڅو معلومات ياد سيستم ته داخل کړي، چې دا موضوع کيدای شی د قضيو د مديريت په سيستم کې د اسنادو د ثبت د ځنډ لامل وي، ولې ليدل کيږي چې په ځينو ولاياتو کې د ۲۰۱۲ تر ۲۰۱۴ کال قضيې د قضيو د مديريت په الکترونيکي سيستم کې ثبت کړل شوی دي. ډيری مرکه کوونکو ويلي دي چې ډيری دوسيې هغه لازم معلومات نلري ترڅو د قضيو د مديريت په سيستم کې معلومات بشپړ شي. ځواب ورکوونکي په دې باور دی چې د لوی څارنوالی د ثبت په فورمو کې د جزايي اجراآتو د قانون او د قضيو د مديريت سيستم په رڼا کې بايد غور او تجديد نظر وشي.سربيره پر دې، ټولې قضيې د پيل څخه تر تړل کيدو پورې مخکې د هغو د ليږد څخه د يوې اداری څخه بلې ادارې ته بايد د قضيو د مديريت په سيستم کې داخلې شي.

---

[2] د يادونې وړه ده چې په دې برخه کې "امنيت" يوازې په نااُمنې پورې ندی محدود، بلکې د زور واکو لخوا ګواښونو پورې هم ارتباط لري.

په عین حال کې د ټولو موجوده او راتلونکي قضیو داخلیدل په الکترونیکي سیستم کې دې ورته لومړیتو ورکړل شي، ولې د قضیو د مدیریت سیستم کیفیت ته دې که څه الکترونیکي وی یا ورقي ورته جدي پاملرنه وشئ. بریالی تجربې ښایي، مخکې له دې چې د قضیو د مدیریت سیستم ګټې په بشپړه توګه ور وپیژندل شي، باید بنسټیز اصلاحات د بشري منابعو، اداري ساختار کې رامنځته او په دې ارزونه کې د همغږۍ نیمګړتیاوي اصلاح کړل شي.

## 7. وړاندیزونه /نتیجه ګیري

تقریباً ټولې هغه زیانمنني چې په دې ارزونه کې په ګوته شوی، د اداري فساد په وړاندې د څارني او ارزوني خپلواکي او ګډې کمیټې په وړاندیزونو کې ورته رسیدګي شوی ده. یاد وړاندیزونه د اداري فساد پر وړاندې د څارني او ارزوني خپلواکي او ګډې کمیټې د څارني او ارزوني چوکاټ په لومړۍ او دریمي برخو کې وړاندې شوی او دلته د هغوی تکرار ته اړتیا نه لیدل کیږي. یاد وړاندیزونه حقوقي خلاوو او نیمګړتیاوو، د قضیو مدیریت هر اړخیزو اصلاحاتو اړتیا، د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې د اړوندو ادارو ظرفیت سازي او ملکي خدماتو اصلاحاتو ته پاملرنه کوي.

د اداري فساد په قضیو کې د ښکیلو ادارو سره په مشورې سره ډیرې زیانمننۍ نویو وړاندیزونو ته اړتیا لري چې په لاندې ډول دي.

- هغه اداري چې د اداري فساد قضیې لوی څارنوالي ته ورسپاري باید یو رسید لیک چې په هغې کې د قضیې شمیره او نیټه/د څارنوالي مهر شتون ولري د وروستي تعقیب په موخه ترلاسه کړي.
- یاده کمیټه همدارنګه وړاندیز کوي ترڅو په لوی څارنوالی او ستره محکمه کې د راتلونکو بشري منابعو د اصلاحاتو د یوې برخې په توګه د کارکوونکو معاشات د هغوی داړتیاوو په پام کې نیولو سره زیات شي، ترڅو واجد شرایط او ځوان نسل په لوی څارنوالي کې جذب شي.

په دې ارزونه کې کلیدي موندني د دې ښکارندوي کوي چې د افغانستان حقوقي او اداري چوکاټ د اداري فساد د قضیو د څیړلو او تعقیب په برخه کې نیمګړتیاوې لري او همدارنګه د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې اړوندو ادارو ترمنځ لازمه همغږي شتون نلري. چې دا ستونزې د دې ایجاب کوی ترڅو قوانین اصلاح او په پروسه کې د ښکیلو ادارو لمنځ کې د همغږۍ روحیه رامنځته شي او د یادو ادارو د بشري منابعو او تشکیلاتي ساختارونو په برخو کې اصلاحات رامنځته شي.

د یادوني وړ ده چې د کابل بانک ورته قضیې، د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې د ادارو د متعهدو کارکوونکو په روحیه او د عامه افکارو په نا باوری باندې ځانګړې اغیزه لري. یاده قضیه د تیر حکومت د اداري فساد د لویو جرایمو څخه وه، چې د اداري فساد پر وړاندې په مبارزه کې د بهرني لاس وهني د مخنیوي په برخه کې د دولتي ادارو کمزورتیا په کې څرګندیږي. ترهغې پورې چې د اداري فساد د قضیو په څیړلو کې د بیروني فشار او زور مخه وه نه نیول شي، اصلاحات او قوانین به په یواځې توګه وه نشي کولای د اداري فساد او په عامه خلکو د هغو د ناوړه اغیزو مخنیوی وکړي.

سره له دې چې د حقوقي کمزورتیاوو او نیمګړتیاوو څیړل کولای شی چې پاملرنه د نورو برخو/غیر حقوقي برخو څخه را کمه کړي، ولې د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې د حقوقي چوکاټ تحلیل کولای شی په آساني سره موږ دې نتیجې ته ورسوي چې په حقوقي ساختارونو کې کمزورتیا او نیمګړتیاوې د اداري فساد د قضیو د څیړلو او تعقیب په برخه کې د اړوندو ادارو ترمنځ د نه همغږۍ او نا غیزمن مدیریت لامل ګرځي. ولې څرنګه چې مخکې ورته هم اشاره وشوه د حقوقي چوکاټونه کمزوري او نیمګړتیاوې د اړوندو ادارو ترمنځ د همغږۍ او همکارۍ د نشتون لپاره نباید توجیه شي، البته که ادارات د سترې محکمې په ګډون غواړي چې د اداري فساد سره مبارزه وکړي، نو له دې کبله د هغوی تعهد په دې برخه کې ډیر مهم دی. د کمیټې د موندنو پر بنسټ، د قوانینو څخه د اړوندو ادارو نا سم تعبیر او تفسیر د یادو ادارو تر منځ د همغږي او همکارۍ د نه شتون لامل ګرځیدلی دی.

تیرو قضیو ته په پاملرني سره لکه د کابل بانک قضیه او د حاجي لعل جان اسحاق زی[3] قضیه، کولای شو چې دې نتیجه ته ورسیږو چې د نړیوالې ټولنې د ملیونونو دالرو مرسته سربیره چې د عدلي سکتور په برخه کې یې ترسره کړي، د افغانستان د قضایي سکتور کارکوونکي د حقوقي چوکاټ د کمزورتیا او نواقصو په پرتله اصلي ستونزه بلل کیږي.

---

[3] حاجي لعل جان اسحاق زی د مخدره توکو د هغو مشهورو قاچاقبرانو څخه دې چې د ۱۴ ملیون ډالرو بډو په ورکولو سره د محبس څخه خلاص شوی دی. افغان چارواکي په دې باور دی چې د نوموړي په خلاصیدو کې ستره محکمه هم لاس لري. نیویارک ټایم، دسمبر ۲۰۱۴، بدې په افغانستان کې د قاچاقچیانو پادشاه د بند څخه خلاص کړی تر عنوان لاندې لیکنه درلوده، چیرته چې پیسې ډیری وختونه محکمې تر خپلې اغیزې را ولي.

## 8. سرچيني


- د تفتيش عالي اداري قانون (2013)
- د افغانستان اساسي قانون (2004)
- د اداري فساد پر وړاندې د ملګرو ملتونو ميثاق (UNCAC) 2003
- د جزا قانون (1976)
- د لوی څارنوالي د تشکيل او صلاحيتونو قانون (2014)
- د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې د ستراتيژۍ د تطبيق د څارنې قانون(2008)
- د نړيوال روڼتيا سازمان رپوټ CPI 2013. Accessed at 15, December 2013. http://www.transparency.org/cpi2013/results
- طلوع نيوز د 27 دسامبر 2014 نيته
- http://www.tolonews.com/en/afghanistan/17622-nato-official-warns-corruption-could-scareoff-donor
- د ګروپي او مشورتي ناستو څخه چمتو شوي معلومات
- د کورنيو چارو وزارت، د تفتيش عالي اداري، لوی څارنوالی، د مدافع وکيلانو خپلواک انجمن، د پوهنتون استادانو، د ولسي جرګې غړيو، د پروان ولايت محکمې او نړوو ملي او نړيوالو بنسټونو د چارواکو سره ځانګړې مرکې،

**لومړۍ ضمیمه**

**د افغانستان اسلامي جمهوریت**

**ستره محکمه**

**د قضائیه ځواک لوی اداري آمریت**

د اداري فساد پر وړاندې د څارنې او ارزونې خپلواکه ګډه کمیټه!

ستاسو د دارالانشا د ۲۱۲۵ شمیرې، ۲/۹/۱۳۹۳ نیټې لیک په ځواب کې:

د اداري فساد پر وړاندې د څارنې او ارزونې خپلواکې ګډې کمیټې د لیک محتویات د سترې محکمې مقام د ۳/۹/۱۳۹۳نیټې د لاربښوونې سره سم د د تدقیق او څېړنو لوی ریاست د تدقیق کمیټې ته د تدقیقي نظر وړاندې کولو په موخه واستول شول، قضایي مدققینو په اړه یې لاندې نظر وړاندې کړی.

د څارنې او ارزونې ګډې کمیټې څو تنه په خپل لیک کې معرفي کړي او تمه لري چې د اداري فساد قضیې چې د لوی څارنوالی له خوا د انفصال په خاطر محکمې ته استول شوي له پیل څخه تر وروستۍ پریکړې پورې وڅاري او ارزونه یې وکړي.

په دې اړه باید ووایو چې، کله چې قضیه محکمې ته استول کیږي، قضیې ته رسیدګي او د حکم صادرول د ذیصلاح محکمې صلاحیت دی او د څارنې او ارزونې کمیټې تیم ګډون د قضایي هیئت په څنګ کې په هره موخه چې وي د محاکمو په صلاحیت کې مداخله بلل کیږي. په داسې حال کې چې د اساسي قانون د (۱۲۲) مادې د حکم سره سم: " هیڅ قانون په هیڅ حالت کې نشی کولای چې قضیه یا ساحه د قضایه قوې د صلاحیتونو د دایرې څخه څرنګه چې په دې اساسي قانون کې راغلي وباسي او بل مقام ته یې تفویض کړي" همدارنګه د قضایه قوي د تشکیل او صلاحیتونو د قانون د (19) مادي د حکم سره سم: " محکمه قضیې ته د رسیدګې په حالت کې خپلواکه ده، خپل حکم د هغه قناعت پر بنسټ چې د مطروحه دلایلو څخه ترلاسه کیږي د قانون د احکامو په حدودو کې صادروي، رسیدګي او د حکم اصدار د محکمې لخوا د قانون پر وړاندې د قضیې د دواړو خواوو د تساوي اصل پر بنسټ د عدالت او بې پرې والي په رعایت سره ترسره کیږي".

نو په دې اساس د څارنې او ارزونې کمیټې غوښتنه په دې اړه کوم قانوني مصداق (توجیه) نلري، البته یاده کمیټه کولای شي د قضیو په اړه څارنه او ارزونه د څارنوالۍ د لارې چې د اجرائیه قوې یوه برخه ده ترسره کړي او خپله موخه ترلاسه کړي.

د تدقیقي نظر جریان د موضوع د سوابقو سره یوځای د سترې محکمې عالي شورا د ۱۸/۹/۱۳۹۳ نیټې ناستې ته وړاندې چې د عالي مقام د (۴۱۷) شمیرې مصوبې په ترڅ کې تدقیقي نظر د تائید وړ وګرځید.

پورتني مراتب ستاسو د مسبوقیت په خاطر تاسي ته واستول شول.

**با احترام**

**دکتور عبدالله ''عطائی''**

**آمر عمومی اداری قوه قضائیه**